# د کاندیدانودنوم لیکنې کړنلار

دغه کړنلار د افغانستان د ټاکنو د قانون د ۶۶ مادې پر بنسټ د ورکړل شویو واکونو په پام کې نیولو سره د کاندیدانو د نوم لیکنې اړوندو چارو د تنظیم په موخه د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا تصویب شوی ده.

## نومونې(اصطلا حګانې)

**لومړۍ ماده :**

وروستۍ اصطلاحګانې په دې کړنلار کې لاندې مفاهیم افاده کوي.

1. کمیسیون : د ټاکنو خپلواک کمیسیون د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پر بنسټ جوړشوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون : د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنو د قانون د ۶۱ مادې پربنسټ جوړشوی دی.
3. ټاکنې: چې د رأیې ورکوونکو نوم لیکنه ، د کاندیدانو نوم لیکنه ، ټاکنیزې مبارزې رأیه ورکونه ،د رأیوشمېرنه او دټاکنودپایلواعلان په کې شاملیږي .
4. سیاسي ګوند:هغه سیاسي ګوند چې د عدلیې په وزارت کې رسماً ثبت او راجسترشوی وي.
5. د ټاکنو نیټه : د رأیې ورکونې ورځ ده، چې د ټاکنو د قانون د ۴۱مادې سره سم، د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا اعلانیږي .
6. ابتدایي لسټ : د کاندیدانو مؤقت لسټ چې د شرایطوسره برابروافراد کولې شي د سیاسي ګوندونو د استازو ، کاندیدانو اود رأیې ورکونې د شرایطو وړاتباعو له خوا تر نیوکې لاندې راشي اویا په لسټ کې شامل کاندیدان کې د خپل ځان اړوندو معلوماتو د بدلون غوښتنه وکړي .
7. پایلیزلسټ: دټاکنیزو شرایطوسره برابرد کاندیدانو هغه لسټ چې په ابتدایي لسټ کې درج وي اوپر خلاف یې ټولې نیوکې رفع شوې ، دکمېسیون له خوا یې تصدیق شوی وي رسماً خپریږي .
8. ددارایي ثبتول : هغه فورمې دي چې منقوله او غېر منقوله دارایي په کې ثبتع شي.

## عملی ساحه

**دویمه ماده:**

دغه کړنلار په لاندینیو ټاکنو کې د کاندیدانو په نوم لیکنې پورې اړوندې چارې تنظیموي :

1. د جمهوري ریاست ټاکنې .
2. د ولسي جرګې ټاکنې.
3. د ولایتي شوراګانو ټاکنې .
4. د ولسوالۍ شوراګانو ټاکنې .

## دنوم لیکنې مهال اولارې چارې

**دریمه ماده:**

1. کمیسیون د کاندیدانو د نوم ثبتونې د نیټې پیل او پای ټاکي اوټول خلک پرې خبروي .
2. کاندیدان کولې شي د کمیسیون له خوا په ټاکل شوي وخت کې په ټاکنو کې د ګډون لپاره له خپل تصمیم څخه په لیکنې ډول کمیسیون خبر کړي.
3. شخص اویااشخاص چې دیو سیاسي ګوند له خوا یوې ټاکنیزې څوکۍ ته نوماند کېږي، د کاندیداتورۍ پر مهال دسیاسي ګوند په استازیتوب درسمي سند په وړاندې کولودګوند دمهر په لګولوسره دې مراجعه وکړي.
4. کاندیدان د نوم لیکنې د غوښتنلیک پر وخت د هغو ټاکنو په پام کې نیولو سره چې په کې د کاندید په توګه ګډون کوي مکلف دي چې داساسی قانون د(۶۲)او(۸۵) مادو اود ټاکنو د قانون د (۱۲)او (

۴۳)مادو مطالب کميسيون ته بشپړ او وړاندې کړي . دياد شويو موادودنه بشپړېدو په صورت کې دهغوی دکانديداتورۍ د نوم ليکنې غوښتليک نه منل کېږي.

5. د جمهو ري ريا ست د ټا کنولپاره درخواست کوونکي مکلف دي چې د نوم ليکنې غو ښتليکو نه دټا کنو خپلوا ک کميسيون ددارلا نشا د بهرنيو چارو ريا ست ته حضوراً په مرکزکې وسپا ر ي.

6. دولسي جر ګې د ولايتي شورا ګا نواو ولسوالي شوراکانو دټا کنو لپاره درخواست کوونکي د خپل نوم ليکنې غو ښتنليکونه دې دکميسيون مرکزي دفتر يا په خپل اړ و ند ولا يت کې د ټا کنو خپلو اک کميسيون ولايتي د فتر ته وړ ا ندې کړ ي. ( دولسي جرکې دټاکنو لپاره دکوچيانو درخواست کووونکي دې خبل غوښتنليکونه دټاکنو خپلواک کمېسيون هر يوه ولايتي دفتر ته چې يې غوښتي وي وړادې کولای شي ).

7. د يوه شخص دنوم ليکنې غو ښتنليک لـه يو ې ټا کنيز ې حوز ې نـه زيا ت چې ټاکل شوې ده ، په عينې ورځ کې تر سره شي،قا نوني جواز نه لري، دسر غړونې په صورت کې بـه دکانديد نوم لـه دواړو ټاکنو او دواړوټاکنيزو حوزوله لسټ څخه حذف شي.

8. هغه درخواست کوونکي چې د دريمې مادې شرطونه يې بشپړ کړې وي کانديد بلل کېږي.

9. د هغه مهال له پاې ته رسيدو وروسته چې د نوم ليکنې لپاره ټا کل شوی دی،د درخواست ورکوونکی غوښتنليک د منلو وړ نه دی.

10. د کميسيون دارالانشأ بـه داړتيا پر وخت دچارود ښه تنظيم په مو خـه د پو ر تنيو موا دو په اړه جلاکړنلارې تصويب کړي.

## دسمبول ټاکنه

**څلورمه ماده :**

1- خپلواک کا نديدان کولای شي چې دپچې پر اساس هغه سمبول چې درأيې ورکونې په پا ڼه کې انعکاس مومي وټاکي.

2- دسياسي ګوند له خوا معرفي شوي کانديد کولای شي د خپل اړوند سياسي کوند سمبول وټاکي. د کمېسيون له خوا دچمتوشويو سمبولونود انتخاب په اړه د قرعې په پام کې نيولو سره د سياسي ګوندونو اړوند وکانديدانو لپاره هيڅ ډول محديتونه وجود نه لري.

## دکانديدانوابتدايی لسټ

**پنځمه ما ده.**

۱- د ټا کنو خپلو اک کميسيو ن دکانديدا نود نوم ثبتو نې ددور ې لـه پای تـه رسيدو وروسته، ابتدېي لسټ دکا نديد ا نو دغو ښتليکو نو له مخې تر تيبو ي. په دغه لسټ کې نو م ،د کا نديد اړ ونده ځا نګړې شميره، دهر کانديد ټا کنيز سمبو ل او عکس شا مل دي .

۲- کميسيون د کا ند يدانوابتديي لسټ په رسمي ډول اعلا نو ي ،اود (۷) ورځولپا ره داعلان لـه نېټې څخه يی عامې ننداري ته ږ دي.

۳- کانديد ا ن کولی شي دابتديي لسټ د نند ارې په دوره کې ، په لسټ کې د ليکل شويو معلو ما تو سمښت او ناسموالی وڅېر ي.

۴- هغه کانديدان چې غواړي دکانديدانودابتدايي ليکل شو ي لسټ معلو ما ت سم کړ ي ،يا هغه د شرايطو وړ کانديدان چې د يو لړ کتنو له مخې يې نومونه په ابتدايي لسټ کې شامل شوې نه وي کولای شی تر (۷) ورځو پورې د ابتدايي لسټ له اعلام او خپرولو څخه وروسته د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزې دفتراود اړوند ولايت دفترونو ته ورشي.

۵- کميسيون د يوه شخص د کانديدو لپاره د غوښتنليک د نـه منلو پـه صورت کې د رخواست کوونکی د موضوع په اړه په ليکني ډول د غوښتنليک د رديدوله دليلونو سره خبروي .

۶- هغه درخواست کوونکې چې د کانديد و پـه اړه يې غوښتنليکونه د کميسيون له خوا رديږي، د خبرتيا دترلاسه کولو له نيټې وروسته تر (۷) ورځو پورې کولاې شي د ټاکنيزو شکا يتونوکميسيون ته ورشي او د استناف غوښتنه وکړي . د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون بايد د موضوع په اړه خپله وروستۍ پريکړه په رسمي ډول دټاکنوخپلواک کميسيون ته وسپاري.

## اعتراضونه

**شپږمه ماده :**

1) له ا بتدايي لست وروسته د سياسي ګوندونو استازي اويا هر افغان تبعه چې درأيو ورکولو په شرايطوبرابر وي کولی شي په ابتدايي لست کې د شتو کانديدانو دشرايطو د نه لرلو په اړه اعتراض وکړي .
2) اعتراض بايد د (۷ ) ورځو په موده کې د کانديدانو د ابتدايي لست له اعلانه وروسته د اعتراضاتو په فورمه کې بايد وليکل شي اودټاکنيزوشکايتونو کميسيون ته دې ورسپاري .
3) د ټاکنيزو شکايتونو کميسيو ن دا اعتراضونو له څيرنې وروسته ،په دې اړوند خپله وروستۍ پريکړه صادروي

**<u>د ټاکنيزو شکايتونود کميسيون پريکړې:</u>**

**اوومه ماده :**

۱. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د شوي اعتراض د اسنادو په پام کې نيولو سره، دابتدايي لستې پر شرايطو د برابروالي او يانه برابر والي کانديد ،په اړه تصميم نيسي.

2 . د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د اعتراضونو په اړوند خپله وروستۍ پريکړه بايد د اعتراضونو دورې تر پايه پورې کميسيون ته وړاندې کړي.

**<u>د کانديدانو بشپړلستې</u>**

**اتمه ماده :**

1. کميسيون د کانديدانوبشپړ لستې د ټاکنو له ترسره کيدو څخه لږ ترلږه (۶۰) ورځې مخکې د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون د تصميمونو او د لازموسمونو د راوستلو، په پام کې نيولو سره د لاترۍ پواسطه چمتواو اعلانوي.
2. کميسيون د کانديدانو په لستې کې د شاملو نومونو په پام کې نيولوسره درأيي ورکونې پاڼې برابروي.

**<u>له کانديديدو څخه تيريدل (انصراف)</u>**

**نهمه ماده:**

د ټاکنيزو ځوکيو کانديدان چې په ابتدايي لستې کې شامل دي، کولی شي دخپل انصراف تصميم د بشپړ لستې له خپريدو او اعلان څخه مخکې په خپل ټاکلي وخت کې په ليکلي ډول کميسيون ته ورسوي.

**<u>دسياسي ګوندونو او ګا نديدانودچلند اصول لاسليک</u>**

**لسمه ماده:**

درخواست کوونکي دنوم ليکنې د غوښتنليک پروخت دهغو ټاکنو په پام کې نيولو سره چې په کې د کانديد په توګه ګډون کوي . دسياسي ګوند او کانديدانو دچلند اصولو په لاسليک اوکمېسيون ته يې په وړاندې کولوسره مکلف دي.

**<u>نافذيدل</u>**

**يولسمه ماده :**

د غه کړنلار د تصويب له نېټې څخه وروسته، دنشر وړ اونافذه ده.